
12 FEBRUARY

# میاشت د رمضان او د الله پاک د محبت فیضان



(For Islamic Brothers)

هفته وار د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

پهٔ 12فروری، کال 2026ء (بمطابق:23 شعبان شريف، کال 1447ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# مياشت د رمضان او د الله پاک د محبت فيضان

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- --- د صحابي رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ بے مثاله روژه
- --- د الله پاک رحمت پهٔ منډو راځي
- --- د اِيمان د لذت د موندلو طريقه
- --- د الله پاک د محبوب نخښې

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُالْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

**د اخري نبي، مکي مَدَني** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** کله چې په تاسو کښې څوک د اودس نه فارغ شي نو اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُه دې لولي بيا دې په ما باندې دُرُود شريف لولي، کله چې هغه دا لولي د هغهٔ د پاره به د رحمت دروازې پرانستے کيږي۔ (1)

درد و اَلَم کے سر پہ ہوں بادل، درود پڑھ | مل جائے گا سکوں دلِ بےکَل! درود پڑھ

ان کی ہی بارگاہِ مُنَوَّر میں صبح و شام | کونین میں ہیں سب سے جو افضل، درود پڑھ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے۔ (2)

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** په ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔ راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❁ د **الله** پاک د رضا د پاره به تول بيان اورم ❁ په اَدب به کښينم ❁ ښهٔ په توجُّه به بيان اورم ❁ څهٔ چې

---

1... القول البديع، صفحه:176۔

2... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1۔

واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه عظيم الشانه تقویٰ

د اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د ژوند مبارک اخري رَمَضَانُ المُبَارَک پۀ کال 1339 هجری کښې وو، دا د سختې ګرمۍ ورځې وې، بيا د هغوئي د عمر مبارک اخرۍ ورځې هم--!! هغوئي ډير بيمار هم وو- پۀ داسې حالت کښې د شريعت د طرف نه د روژو د پريښودو اِجازت وو خو د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د خپل ځان پۀ باره کښې څۀ فتویٰ وه، واورۍ! هغوئي وفرمائيل: پۀ بريلي شريف کښې د ډيرې ګرمۍ پۀ وجه زما د پاره روژه نيول ممکن نۀ ده خو پۀ غرونو کښې يخني وي، د دلته نه نيني تال (*Nainital*) د هندوستان يو ښار) نزدې دے، پۀ بهوالي غر (*Bhawali Mountain*) کښې روژه نيولے کيدے شي، زۀ هلته د تللو توان لرم لهذا زما د پاره هلته د تللو سره روژه نيول فرض ده- نو هغوئي هُغه رَمَضَانُ المُبَارَک هم هلته پۀ غر کښې تير کړو او ټولې روژې يې ونيولې- (1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## مرحبا--!! بيا رمضان راروان دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! رَمَضَانُ المُبَارَک راروان دے- سُبْحٰنَ الله! د رحمان مياشت راروانه ده، آؤ! آؤ! خوشحاله شئ! د بخښنې مياشت تشريف راوړي--!!

مرحبا! صَد مرحبا! پھر آمدِ رمضان ہے | کِھل اُٹھے مرجھائے دِل تازہ ہوا ایمان ہے
یاخُدا! ہم عاصیوں پر یہ بڑا احسان ہے | زندگی میں پھر عطا ہم کو کیا رمضان ہے (2)

1...اعلیٰ حضرت اور تصوف، صفحه:64-

2...وسائلِ بخشش، صفحه:705-

بس يو څو ورځې پس به اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیْم! ❁ شيطان قيد کړے شي ❁ د جنَّت دروازې به پرانستے شي ❁ د نيک اعمالو قدر او قيمت به زيات کړے شي، د نفلو ثواب به د فرضو برابر او د فرضو ثواب به 70 چنده زيات کړے شي ❁ د بخښنې چيټۍ به تقسيمول شروع کړے شي ❁ اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیْم! روزانه به په لکونو ګنهګاران بخښلے کيږي-

ابرِ رحمت چھا گیا ہے اور سماں ہے نُور نُور | فضلِ رَبّ سے مغفرت کا ہو گیا سامان ہے
ہر گھڑی رحمت بھری ہے، ہر طرف ہیں برکتیں | ماہِ رمضاں رحمتوں اور برکتوں کی کان ہے [1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د شمسي مياشتو د بدليدو حِکمت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! څکال رمضان په سخت موسم کښې نه دے ، ورځې ورې دي او شپې اوږدې دي، مخکښې په ګرمۍ کښې رمضان وو، ورځې اوږدې وې، شپې ورې وې، مخکښې به د اوږدو روژو مزه وه، دا ځل به د شپې عبادت کښې اسانې وي- اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیْم! دلته يوه ايمان تازه کوونکې خبره ده، کومې چې شمسي مياشتې (***Solar Months***) دي (يعني جنوري، فروري، مارچ، اپريل وغيره)، رَمَضَانُ الْمُبَارَک په دې 12 مياشتو کښې ګرځي راګرځي، دا ځل رمضان په فرورۍ او مارچ کښې راروان دے، تير کال په مارچ کښې وو، د هغې نه په مخکښې کال په مارچ او اپريل کښې وو، يو څو کاله مخکښې په جون او جولائي کښې وو، دغه شان د رَمَضَانُ الْمُبَارَک مياشت په 12 واړو شمسي مياشتو کښې ګرځي راګرځي- (2)

سُبْحٰنَ الله! شيخ محي الدِّين اِبنِ عربي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي: الله پاک رمضان په ټولو شمسي مياشتو کښې ګرځوي د پاره د دې چې د هرې شمسي مياشتې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه:705-

2...الفتوحات المكية، الباب التاسع و الستون، وصل في فصول الجمعة...الخ، جلد:2، صفحه:280 ملخصاً-

د میاشت فیضان نصیب شي، داسې به ټولې شمسي میاشتې فضیلت مومي۔

تجھ پہ صدقے جاؤں رَمضاں !تُو عظیم الشّان ہے | تجھ میں نازِل حق تعالیٰ نے کیا قراٰن ہے
ہر گھڑی رحمت بھری ہے ہر طرف ہیں برکتیں | ماہِ رَمضاں رحمتوں اور برکتوں کی کان ہے[1]

## د رمضان مختصر فضیلتونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د رَمَضَانُ الْمُبَارَک میاشت ډیره د فضیلتونو والا، ډیره د عظمونو والا میاشت ده، په حدیثونو کښې ارشاد دے: ✿ میاشت د رمضان سَیِّدُ الشُّهُور (د ټولو میاشتو سرداره) ده۔[2] ✿ د دې په وړومبۍ شپه د اسمانونو دروازې پرانستلے شي، بیا د اخرۍ شپې پورې نۀ بندیږي ✿ څوک چې په دې میاشت کښې یوه سجده اوکړي، د هغۀ د پاره 1500 نیکۍ لیکلے کیږي او په جَنَّت کښې ورله د سرو یاقوتو کور جوړولے شي ✿ څوک چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک وړومبۍ روژه اونیسي، د هغۀ تیر ګناهونه معاف کولے شي ✿ د سحر نه تر ماښامه پورې 70 زره فرښتې د هغه د پاره د بخښنې دُعا کوي[3] ✿ په دې میاشت کښې د نفلو ثواب د فرضو برابر او د فرضو ثواب 70 چنده زیاتولے شي[4] ✿ د رَمَضَانُ الْمُبَارَک په وړومبۍ شپه اللہ پاک دې اُمَّت ته د رحمت نظر فرمائي او چا ته چې اللہ پاک د رحمت نظر وفرمائي، هغۀ له به چرې هم عذاب نۀ ورکوي[5] ✿ په دې مبارکه میاشت کښې بخښنه کیږي، هره ورځ د روژه ماتي په وخت 10 لاکهه ګنهګاران بخښلے کیږي او چې کله په دې مبارکه میاشت کښې د جُمعې ورځ تشریف راوړي، بیا خو مزې شي، د حدیثِ پاک مطابق په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه:705 ملتقطاً۔

2...مصنف عبد الرزاق، کِتَابُ الصیام، باب فضل الصیام، جلد:4، صفحه:238، حدیث:7924۔

3...شُعَبُ الْاِیْمَان، باب فی الصیام، جلد:3، صفحه:314، حدیث:3635 ملتقطًا۔

4...صحیح ابنِ خزیمه، کتاب الصیام، باب فضائل شهر رَمَضَان ان صح الخبر، صفحه:438، حدیث:1887۔

5...شُعَبُ الْاِیْمَان، باب فی الصیام، جلد:3، صفحه:303، حدیث:3603۔

(يعنې د زيارت پهٔ ورځ د نــمر پريوتو نه د جُمعې د ورځې نــمر پريوتو پورې) پهٔ هر يو ساعت کښې لس، لس لاکهه گسان بخښلے کيږي او دا ټول به هٰغه خلق وي پهٔ کومو باندې چې به دوزخ واجب شوے وي۔ (1)

عاصيوں کی مغفرت کا لے کر آيا ہے پيام | جھوم جاؤ مجرمو! رَمضاں مہِ غفران ہے

## د صحابئ رسول بے مثاله روژه

يو صحابي تير شوے دے: حضرت عبد الله بن مَخْرَمَه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ- ډير د جذبې والا، د عشق شوق لرونکے، د الله پاک پهٔ عشق کښې اوسيدونکے صحابي دے، يو ځل هغوئي دُعا اوکړه: يا الله پاکه! ما له د هٰغه وخته پورې مرگ مهٔ راولې د څو پورې چې ستا پهٔ لار کښې زما هر اندام تکليف برداشت نهٔ کړي۔

اَللّٰہُ اَکْبَر! ذوق ته وګورئ چې څنګه ذوق دے؟ مونږ د تکليفونو نه لرې تښتو او صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ غواړي چې د الله پاک پهٔ دربار کښې داسې حاضري وي چې د هغوئي هر يو اندام د هغهٔ پهٔ لاره کښې تکليف برداشت کړے وي۔

د هغوئي دا دُعا د جنګِ يمامه پهٔ موقع قبوله شوه- حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما فرمائي: د جنګِ يمامه پهٔ ورځ (کله چې جنګ ختم شو نو زهٔ د جنګ ميدان ته اورسيدم)، هٰغه وخت د حضرت عبد الله بن مَخْرَمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ټول وجود زخمي شوے وو- هغوئي چې ما ته څنګه وکتل نو اوئې فرمائيل: اے عبد الله! د روژه ماتې وخت دے؟ ما ووئيل: آؤ جي! شوے دے- اوئې فرمائيل: بيا دا ډال واخله، پهٔ دې کښې اوبهٔ واچوه (چې زهٔ پرې روژه ماته کړم)، فرمائي: زهٔ زر د اوبو راخستو د پاره لاړم، چې واپس راغلم نو حضرت عبد الله بن مَخْرَمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ (بغير د روژه ماتي، هُم د روژې پهٔ حالت کښې) د دُنيا نه رخصت شوے وو۔ (2)

---

1...مسند الفردوس، جلد:3، صفحه:320، حديث:4960۔

2...الاصابه فی تمييز الصحابه، جلد:4، صفحه:183۔

اَللّٰہُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د الله پاک سره د محبت کمال ته وګورئ! د عبادت د شوق کمال ته وګورئ! د جنګ په حالت کښې دے، د دښمن مقابله کوي، ټول وجود يـې زخمي زخمي دے، په دې حالت کښې هم صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ روژه نيولې ده- د يوې بلې جذبې خبره دا ده چې جنګِ يمامه په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې نۀ وو شوے، يعنې حضرت عبد الله بن مَخْرَمَه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرض نۀ بلکې نفلي روژه نيولې وه-

سُبْحٰنَ الله! دې ته وئيلے شي د الله پاک د محبت فيضان---!!

## د اِيمان والؤ د الله پاک سره محبت

الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ ؕ (پاره:2، سورهٔ بقره:165) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او ايمان والا د ټولو نه زيات د الله سره محبت کوي- |

هم دا د الله پاک د هٔغه ډير زيات محبت ظاهريدل دي چې صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د جنګ په حالت کښې دے، په سخته کښې راګير دے، د پاک وجود هر يو اندام يـې د الله پاک په لاره کښې تکليف تير کړے دے، اګر که دا ټخپله ډير لوئي عبادت دے، د دې سره سره نفلي روژې هم نيسي- تاسو لږه اندازه ولګوئ چې د جنګ په حالت کښې چې کله هغوئي زخمي شوے وي، کله چې هغوئي د غير مسلمو سره په جنګيدو جنګيدو زمکې له تشريف وړے وي نو هٔغه وخت به څومره تږے وو؟ وجود به يـې څومره کمزوري محسوسوله؟ خو صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دے، د الله پاک سره ډير محبت لرونکے دے، په دې حالت کښې يـې هم روژه ماته نۀ کړه بلکې د روژه ماتي وخت شو، بيا يـې هم روژه ماته نۀ کړے شوه، هم داسې د روژې په حالت کښې د الله پاک په دربار کښې حاضر شو-

آ بتاؤں کہ کیا، صحابہ ہیں | ہم ہیں جن پر فدا، صحابہ ہیں

گونجتی ہے جو کل جہانوں میں دین حق کی صدا، صحابہ ہیں
خود کو قربان کر دیا سب نے آقا کے با وفا، صحابہ ہیں

## مونږ او زمونږ بهانې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! افسوس چې اوس د الله پاک سره د محبت دا جذبې کميږي- اوس دلته خلق بهانې لټوي، مثلاً ❁ چې څۀ داسې صورت جوړ شي چې ما ته د روژې د نيولو نه نجات حاصل شي ❁ څۀ داسې وشي چې تراويح راته معاف شي ❁ زما شوګر زيات شوے دے، آيا زۀ روژه پريښودے شم؟ ❁ زۀ ډير کمزورے شوے يم، آيا زۀ روژه پريښودے شم؟ ❁ زما د بلډ پريشر مسئله ده ❁ څوک وائي: محنت مزدوري کول وي، ځکه روژه نشم نيولے-

غور خو اوکړئ! رَبِّ کريم مونږ ته داسې د کمال، بے مثاله، د فضيلتونو والا، د برکتونو والا، عظيم الشانه مياشت راعطا کړې ده او آه! مونږ د ځان د پاره بهانې لټوو او د دې د برکتونو نه محرومه کيږو-

## مؤمِن بهانې نۀ لټوي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د مؤمِن بنده دا شان نۀ دے، مؤمِن د الله پاک د قرب حاصلولو حرص کوي، پۀ دې لار کښې هيڅ بهانې نۀ لټوي- يو ډير ښکلے روايت واورئ! د حضرت سعيد بن جبير رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روايت دے: د قيامت ورځ به وي، الله پاک به ټول مخکښيني وروستني پۀ خپل دربار کښې راجمع کړي، بيا هُغه خلق کومو چې به پۀ دُنيا کښې شِرک کولو، د الله پاک نه علاوه يې د دروغو خدايان جوړ کړي وو، د هغوئي دروغژن خدايان به دوزخ ته غورځولے شي او هُغه مشرکانو ته به حکم کيږي (تاسو د دې خپل د دروغو خدايانو سره محبت کولو، قاعده دا ده چې چرته محبوب وي، محبت کوونکي

هم هلته پکار دي، لهذا) تاسو هم د خپلو دروغژنو خدايانو خوا له لاړ شئ!

اَللهُ اَکْبَر! دا د دروغو، فاني، مجازي محبتونه دي، دا ډير زر ختميږي، په قرآنِ کريم کښې دي: د قيامت په ورځ چې به کله مشرک عذاب ويني نو چغې به کړي:

وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ ﴿۲۳﴾ (پاره:7، سورهٔ انعام:23) ترجمهٔ کنزُالعِرفان: زمونږ دې په خپل رب قَسَم وي چې مونږ هيڅکله مشرکان نهٔ وو-

يعنې په دُنيا کښې چې به يې د چا سره محبت کولو، د چا د پاره چې به چې د جنګ جګړو د پاره تياريدل، اوس د قيامت په ورځ چې کله هغه دروغژن خدايان دوزخ ته تلونکي ويني نو د خپلو محبتونو نه به اِنکار اوکړي-

خير! ما روايت عرض کولو: مشرکان خو به اِنکار اوکړي چې مونږ دا دروغژن خدايان نهٔ پيژنو، نهٔ د دوئي سره محبت کوو- بيا به په دې کافرانو باندې د ايمان والؤ د کمالي، بے مثاله محبتونو نظاره اوکړے شي، د حشر په ميدان کښې به الله پاک ايمان والؤ ته وفرمائي: اِنْ كُنْتُمْ اَحِبَّائِيْ فَادْخُلُوْا جَهَنَّمَ اے ايمان والؤ---!! که تاسو زما سره محبت کوئ نو دوزخ ته داخل شئ---!!

سُبْحٰنَ الله! د روايت الفاظ دي: بس د الله پاک د حکم اوريدل به وي چې، فَيَقْتَحِمُوْنَ فِيهَا ايمان والا به لمبه شوي دوزخ ته ور ودانګي- هغه وخت به د الله پاک د عرش د لاندې نه اواز وشي، اواز کوونکے به وائي:

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ ؕ (پاره:2، سورهٔ بقره:165) ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او ايمان والا د ټولو نه زيات الله سره محبت کوي-

دلته يو وضاحت کووم، دا ايمان والا، په زړهٔ کښې د الله پاک د محبت شمعې روښانه کوونکي به دوزخ ته خو ضرور ور ودانګي خو دوزخ به دوئي اونه سوزولے شي بلکې په دوئي باندې به يخ او د سلامتيا والا شي- وروستو به دوئي د دوزخ نه راوباسي او جَنَّت

به يـې داخِل کړي-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې روايت نه مونږ ته معلومه شوه چې مؤمِن بنده بهانې نۀ لټوي، د مؤمِن شان دا دے چې د قيامت پۀ ورځ د خپلو سترګو د وړاندې لـمبې وهونڪي وور ته د ور دانګلو حڪم وشي نو هلته به هم سوچ نۀ کوي او ور دانګي به- پخپله ووايئ چې کله هلته بهانې نۀ دي لټول نو دلته به يـې ولې لټوي- الله پاک دې يـې زمونږ نصيب کړي، کاش چې د الله پاک د محبت فيضان زمونږ هم نصيب شي-

## ووايئ: اللّٰه---!!

الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

قُلِ اللّٰهُ ۙ ثُمَّ ذَرْهُمْ فِیْ خَوْضِهِمْ یَلْعَبُوْنَ ﴿۹۱﴾ (پاره:7، سورۂ انعام:91)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: تۀ ووايه: "الله" بيا هغوئي د هغوئي پۀ بهودګئ کښې پۀ لوبو کولو کښې پرېږده-

صوفيائے کرام فرمائي: د دې آيت مبارک مطلب دے: **الله بس، باقي هَوَس-** (***Only Allah, the rest is lust***) يعني کوم څيز چې د الله پاک نه غافله کول کوي، هغه لـهو و لعب (لوبې ټوقې) دي، د هغې نه مخ واړوئ او صرف او صرف د الله پاک شئ---!![1]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د رَمَضَانُ الْمُبَارَک مياشت تشريف راوړي، دې د پاره بس دا يو تيارے اوکړئ چې **هر هُغه څيز کوم چې د الله پاک نه غافله کول کوي، هغه پرېږدئ! او صرف او صرف د الله پاک شئ!**

## د ټولو نه جُدا شئ او د هغهٔ شئ!

پۀ سُورۂ مزمل کښې اِرشاد دے:

1...تفسیر نعیمی، پارہ:7، سورۂ انعام، زیرِ آیت:91، جلد:7، صفحه:631۔

وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ اِلَيْهِ تَبْتِيْلًا ؕ﴿۸﴾ (پارہ:29، سورۂ مزمل:8) | ترجمۂ کنزُالعِرفان: او د خپل رب نوم یاد کړه او د ټولو نه جدا شئ صرف د هغهٔ شئ۔

د تَبَتَّل معنیٰ وي: دِل اَزْ دُنیا بُرِیْدَنْ يعنې د زړهٔ نه دُنيا ويستل او غورځول۔ (1) ګويا فرمائيلے کيږي چې د زړهٔ نه دُنيا اوباسئ او صرف او صرف د اللہ پاک شئ!

## د اللہ پاک طرف ته منډې کړئ---!

پهٔ 27 سيپاره، سورۂ ذَارِيَات، آيت: 50 کښې اللہ پاک فرمائي:

فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ ؕ (پارہ27، سورۂ ذاریات:50) | ترجمۂ کنزُالعِرفان: او د اللہ طرف ته منډې کړئ۔

يعنې اے خوږه محبوبه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! تاسو وفرمايئ چې اے خلقو! د اللہ پاک طرف ته منډې کړئ--! حضرت سهل تُستري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې آيت مبارک لاندې فرمائي: اے خلقو: مَا سِوَى الله (يعنې د اللہ پاک نه علاوه د دُنيا هر څيز) پريږدئ او د اللہ پاک طرف ته منډې کړئ! (2)

بس رَمَضَانُ الْمُبَارَک تشريف راوړو، دا د قرآن حکم پهٔ زړهٔ او دماغو کښې نقش کړئ ! دا پوخ ذِهن جوړ کړئ!

❀ مزدورياني اوس هم کيږي او بيا به هم کيږي ❀ ارام اوس هم کيږي او بيا به هم کيږي ❀ د دُنيا کار روزګار اوس هم کيږي او بيا به هم کيږي ، ما ته صرف د رَمَضَانُ الْمُبَارَک پهٔ مياشت کښې صرف او صرف د اللہ پاک طرف ته منډې وهل دي ❀ روژې پهٔ شوق او ذوق سره نيول دي ❀ تراويح پهٔ شوق او ذوق سره کول دي ❀ تِلاوت ته ملا کلکه تړل دي ❀ ذِکر او دُرُود ته پوره پام کول دي۔ نور ټول کارونه وروستو، دا يوه مياشت ❀ زما

1...روح البیان، پارہ:29، سورۂ مزمل، زیر آیت:8، جلد:10، صفحہ:213۔

2...روح البیان، پارہ:27، سورۂ ذاریات، تحت الآیۃ:50، جلد:9، صفحہ:171۔

مقصد ❁ زما د سوچونو مرکز ❁ زما د محنتونو مرکز به صرف او صرف هم يو وي، ما له خپل رَبّ راضي کول دي۔

## د الله پاک رحمت پۀ منډو راځي

د **بُخاري شريف** حديثِ پاک دے، زۀ حديث شريف د شرح سره عرض کووم: خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ستاسو رَبّ فرمائي: کله چې بنده زما طرف ته يو لويشت را نزدې شي نو زما رحمت د هغۀ طرف ته د يو ګز برابر ور نزدې شي، که بنده زما طرف ته د يو ګز برابر را رانزدې شي نو زما رحمت د هغۀ طرف ته د دوه ګزه برابر ور نزدې شي، که بنده زما طرف ته پۀ مزه راځي نو زما رحمت د هغه طرف ته پۀ منډه ورځي ۔

سُبْحٰنَ الله! د الله پاک د رحمت نه قربان شم! د **رَمَضَانُ الْمُبَارَک پۀ مياشت** کښې خو هسې هم هر ساعت رحمتونه راوريږي، بيا د الله پاک دې کرم ته لږ سوچ اوکړئ چې فرمائي: چې بنده زما طرف ته يوه لويشت را نزدې شي، د الله پاک رحمت د هغۀ طرف ته د يو ګز برابر ور نزدې کيږي، يعنې پۀ دې باندې مونږه پوهه کوو چې اِنسان محنت کم کوي، خپل لږ شان کوشش کوي، د الله پاک رحمت ور وروړاندې کيږي او هغه پۀ خپله لمنه کښې رانيسي۔

## د الله پاک د بنده سره محبت

**پۀ احياءُ العلوم کښې دي:** الله پاک د خپل نبي حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام طرف ته وحي وليږله، اوئې فرمائيل: اے داؤده! زما نه مخ اړوونکو ته که چرې دا معلومه شي چې زۀ د هغوئي څومره انتظار کووم او پۀ هغوئي باندې څومره مهربانه يم او د هغوئي د ګناه د معاف کولو څومره شوق لرم نو زما د شوق پۀ وجه باندې به هغوئي مړۀ شي او زما د محبت پۀ وجه به د هغوئي جوړونه مات شي۔ اے داؤده! زما دا اراده د هغه خلقو پۀ باره کښې ده کوم چې

زما نه مخ اړوي نو کوم خلق چې زما طرف ته متوجه وي د هغوئي پۀ باره کښې به زما اِراده څۀ وي؟ (1)

اَللّٰہُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اندازه ولګوئ چې الله پاک پۀ مونږ ګنهګارانو باندې څومره مهربانه دے، مونږ چې لږ شان قدم واخلو، د رَبِّ کريم رحمت انتظار کوي چې کله به اِنسان هغه طرف ته توجه کوي، کله به هغه د رحمت پۀ لَمَن کښې راګيرېږي- کاش چې زمونږ د الله پاک د رحمت فيضان نصيب شي-

## د اِيمان د خوږوالي موندلو طريقه

د صحابئ رسول، حضرت اَنَس بِن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، جانِ جان او جانِ ايمان، رسولِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيْهِ درې صفتونه دي دا چې پۀ کوم اِنسان کښې وموندلے شي وَجَدَ حَلَاوَةَ الْاِيْمَانِ هغه کَس به د اِيمان حَلَاوَت (يعنې خوږ والے) ومومي: (1): چې د هغۀ د هر څيز نه زيات د الله پاک او د هغۀ د رسول، رسولِ مقبول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره محبت وي (2): د چا سره چې هم محبت کوي، صرف د الله پاک د رضا د پاره محبت کوي (3): د مسلمانيدو نه پس بيا د کُفر ډنډې ته غورځيدل داسې نۀ خوښوي لکه څنګه چې وور ته غورځيدل نۀ خوښوي-(2)

معلومه شوه چې د الله پاک او د هغۀ د خوږ رسول، رسولِ مقبول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم محبت د ټولو کمالونو اصل دے ❁ د چا چې د الله او د هغۀ د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **محبت** نصيب شي، د هغۀ زړۀ پاک شي ❁ د چا چې د الله پاک او د هغۀ د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **محبت** نصيب شي د هغۀ ايمان پوخ شي ❁ د چا چې د الله او د هغۀ د

---

1...احياء العلوم، كتاب المحبة...الخ، بيان معنى الشوق...الخ، جلد:4، صفحه:396-

2...بخاری، كِتَابُ الْاِيْمَان، باب: حَلاوَةُ الْاِيْمَان، صفحه:74، حديث:16-

رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **محبت** نصيب شي د هغۀ پۀ عبادت کښې خوند نصيب شي ✿ د چا چې د الله او د هغۀ د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **محبت** نصيب شي د هغۀ د اخرت فِکر نصيب شي او ✿ د چا چې د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **محبت** نصيب شي د هغۀ سره د تاج او د تخت او د حکومت لالچ نۀ وي ✿ د چا چې د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **محبت** نصيب شي هغه بس د الله پاک او د هغۀ د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رضا طلب ګار جوړ شي۔

چشمِ تَر اور قلبِ مضطر دے | اپنی الفت کی مے پلا یارَبّ![1]

## د الله پاک سره د محبت اِظهار کوئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** اَلْحَمْدُلِلّٰه! مونږ مسلمانان يو، د الله پاک پۀ فضل سره د هر مسلمان پۀ زړۀ کښې د الله پاک محبت وي، د رَمَضَانُ الْمُبَارَک مياشت تشريف راوړي، د الله پاک سره د خپلو محبتونو اِظهار اوکړئ!

✿ ښه ډير نمونځونه کوئ! ✿ ډير تِلاوت کوئ! ✿ ډير ذِکرُ الله کوئ! ✿ روژې خو فرض دي، ضرور نيول دي، لازمي يې اونيسئ! ✿ د پيشمني او روژه ماتي پۀ وخت د الله پاک پۀ حُضُور کښې دعاګاني کوئ! ✿ د روژې پۀ مياشت کښې هسې هم تهجد کول اسان وي، اوس خو شپې هم اوږدې دي، د تهجدو د پاره راپاخيدل به نور هم اسان شي، ځکه تهجد پۀ پابندی سره کوئ! ✿ د اِشراق او د څاښت نفلونه کوئ! ✿ د اوابينو نفلونه کوئ! ✿ د تراويح پوره انتظام کوئ! غرض دا چې د نيکو د پاسه نيکئ کوئ!

سُبْحٰنَ الله! کله چې بنده د الله پاک سره د محبتونو داسې اِظهار کوي، کۀ د الله پاک پۀ بارګاه کښې د هغۀ دا اِظهار قبول شي نو د دې اِنعام څۀ ميلاؤيږي؟ سُبْحٰنَ الله! حديثِ پاک

1...وسائلِ بخشش، صفحه:79۔

واورئ! د الله پاک نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: الله پاک فرمائي: اِنسان چې په کومو ذريعو زما قُرب حاصلوي، په هغې کښې زما د ټولو نه خوښه ذريعه فرائض (مثلاً نـمونځ، روژه، حج، زکوٰة وغيره) دي او زما بنده د نفلونو په ذريعه زما قُرب حاصلوي، حاصلوي، د دې پورې چې زۀ د هغۀ سره محبت شروع کړم، بيا چې کله زۀ د هغۀ سره محبت کووم نو ❁ زۀ د هغۀ غوږونه جوړ شم، په کومو چې هغه اوريدل کوي ❁ زۀ د هغۀ سترګې جوړې شم، په کومو چې هغه ليدل کوي ❁ زۀ د هغۀ لاسونه جوړ شم، په کومو چې هغه نيول کوي ❁ زۀ د هغۀ ښپې جوړې شم، په کومو چې هغه ګرځي، که هغه زما نه څه غواړي نو زۀ يې هغه ته ورکووم، که هغه زما پناه غواړي نو زۀ هغه له پناه ورکووم۔ (1)

د دې حديثِ پاک چې کومه تشريح علمائے کرامو فرمائيلې ده، د هغې مطابق معنیٰ دا ده چې کله اِنسان د فرائضو او نفلونو په ذريعه د الله پاک سره د خپلو محبتونو اِظهار کوي نو ❁ د دې په نتيجه کښې الله پاک د هغۀ خاص مدد فرمائي ❁ د هغۀ مدد او مرسته کولے شي ❁ د هغۀ اندامونه د ګناهونو نه محفوظ ساتلے شي ❁ د نورو نيکو توفيق ورته عطا کولے شي ❁ د اِخلاص نعمت ورته عطا کولے شي او د دې په برکت د هغۀ مقصدونه پوره کولے شي۔ (2)

## مالِک ډير کريم دے

حضرت وَهب بن مُنبه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د بني اسرائيلو يو کَس وو، ډير عبادت ګزار وو، د ضرورت مطابق به يـې حلال رزق ګټلو او په باقي وخت به يـې هُم په عبادت کښې تيرولو۔ يو ځل داسې وشو چې هغۀ ته پرله پسې ډيرې ورځې څۀ مزدوري ميلاو نۀ شوه،

1... بخاری، کتاب الرقاق، باب التواضع، صفحه:1597، حديث:6502۔

2... فتح الباری لابن حجر، کتاب الرقاق، باب التواضع، جلد:11، صفحه:418، زيرِ حديث:6502 ملخصاً۔

خبره لوږې ته ورسيدله، يوه ورځ دا د کار لټولو د پاره د کور نه ووتو، چې کله ورته څۀ کار ميلاؤ نۀ شو نو سوچ يې اوکړو چې د الله پاک عبادت کووم- نو د درياب غاړې ته لاړو، اودس يې اوکړو او ټوله ورځ يې پۀ عبادت کښې تيره کړله- چې ماښام شو نو کور ته واپس راغلو، ګټلي خو يې هيڅ هم نۀ وو، لاسونه يې خالي وو، کور والؤ چې ترينه پوښتنه اوکړه نو اوئې وئيل: نن مې د ډير کريم مالِک سره مزدوري کړې ده ، هغه به ما ته ډير ښه اُجرت راعطا کړي-

پۀ نهره که هر څنګه وه شپه هم تيره شوه- بَل سحر بيا د کار پۀ لټون کښې ووتو، نن ورته هم کار ميلاؤ نۀ شو، د درياب غاړې ته لاړو او دا ورځ يې هم ټوله پۀ عبادت کښې تيره کړله- ماښام بيا خالي لاسونه کور ته راغلو- لوږې وهلې کور وداني چې يې وکتل نو پۀ جذباتو کښې يې ووئيل: د څومره ورځو نه لوږې دي، د ماشومانو حالت داسې شوے دے چې د کتلو نۀ دے او ستاسو مالِک دے چې اُجرت نۀ درکوي- داسې به ګزاره څنګه کيږي؟

هغې ته څۀ پته وه چې زما خاوند د کوم مالِک سره مزدوري کوي- دې عبادت ګزاره نيک انسان چې د خپلې کور وداني خبره واوريدله نو پۀ زړۀ کښې پريشانه شو، ټوله شپه يې پۀ غم او پريشانئ کښې ډډې پۀ ډډې پۀ اوختو کښې تيره کړله- پۀ بله ورځ بيا د مزدورئ د پاره ووتو، نن ورته هم کار ميلاؤ نۀ شو، بيا د درياب غاړې ته لاړو، اودس يې اوکړو او پۀ عبادت کښې مصروف شو-

ټوله ورځ خو پۀ عبادت کښې، د الله پا پۀ ياد کښې پۀ خوشحالئ تيره شوه خو چې کله ماښام شو او کور ته د تللو وخت شو نو بيا پريشانه شو، بيا دغه نيک انسان د کور طرف ته روان وو، لاسونه يې نن هم خالي وو، ښپې پرې درَنې درَنې کيدلې، پۀ زړۀ کښې يې بيا بيا خيال راتللو چې بچو ته به څۀ وايم، څنګه به يې دلاسه کووم- هُم پۀ دې سوچونو

کښېي د پريشانۍ په حالت کښې د کور طرف ته روان وو، چې کله کور ته نزدې شو نو څۀ ګوري چې د کور نه يې د ښه خوراکونو خوشبوئي راځي، داسې ښکاريدله لکه چې دننه خوشحالي وي، د يو ساعت د پاره خو ورته ولګيدله چې کيدے شي د بل چا کور ته راغلے يم، بيا يې چې کله دروازه وډبوله نو ښځې يې په خندا او په مُسکا او په خوشحالۍ خوشحالۍ دروازه برسيره کړه، په کتلو يې ووئيل: تۀ چې د کوم مالِک سره کار کوې، هغۀ واقعي ده چې ډير کريم دے، نن ستاسو د تللو نه پس د هغۀ قاصِد راغلو، هغۀ ډيرې زياتې پيسې او د خوراک څيزونه راکړل او اوئې وئيل: چې کله ستا خاوند راشي نو هغۀ ته سلام وايه او ورته ووايه چې ستا مالِک ستا د عمل نه راضي دے، دا ستا د محنت بدله ده- (1)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! واقعي ده چې رښتيا خبره ده، څوک چې د نيکۍ لار اختيار کړي نو الله پاک د هغۀ ټول وران کارونه سم کړي- اَلْحَمْدُلِلّٰه! رَمَضَانُ الْمُبَارَک شريف تشريف راوړي، دا يوه مياشت مونږه د الله پاک په نوم کړو، بس پوخ ذِهن جوړ کړو چې ما ته د رَمَضَانُ الْمُبَارَک په مياشت کښې د خپل رَبّ سره د ښه ډيرو محبتونو اِظهار کول دي-

## د الله پاک سره د محبت نخښې

حضرت بايزيد بِسطامي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير لوئي ولِيُّ الله تير شوے دے، د الله پاک سره ډير محبت لرونکے وو-

منقول دي چې د هغوئي نه چا پوښتنه اوکړه: بنده چې د الله پاک سره محبت کوي، د دې نخښه څۀ ده؟ او الله پاک چې د بنده سره محبت فرمائي، د هغې نخښه څۀ ده؟

او دا نخښې لرې په توجه سره واورئ! اوئې فرمائيل:

مَنْ يُحِبُّ اللهَ فَهُوَ مَشْغُولٌ بِعِبَادَتِهِ سَاجِدًا وَرَاكِعًا

---

1...عيون الحکايات-

**ترجمه:** څوک چې د الله پاک سره محبت لري، د هغهٔ په عبادت کښې، په رکوع او سجدو کښې مصروف اوسي-

فَاِنْ عَجَزَعَنْ ذٰلِكَ، اِسْتَرْوَحَ اِلَى ذِكْرِ اللِّسَانِ وَالثَّنَاءِ

**ترجمه:** بيا که چرې د رکوع او د سجدو نه عاجزه شي نو په ژبه باندې د الله ذِکر کوي او سکون حاصلوي-

وَاِنْ عَجَزَ، اِسْتَرْوَحَ اِلَى ذِكْرِ الْقَلْبِ وَالتَّفْكِيرِ

**ترجمه:** او که د ژبې د ذِکرنه هم عاجزه شي نو په زړهٔ کښې د الله پاک په ذِکر کولو (د هغهٔ د نعمتونو په باره کښې په) غور او فِکر کولو کښې مصروفه شي- (1)

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د چا د الله پاک سره محبت شي، هغه هُم بس د هغهٔ شي، د هر غفلت نه لرې شي، هغه به کله په سجدو کولو په نظر راځي، کله به په نـمونځونو کولو په نظر راځي، په نـمونځونو کولو چې کله ستړے شي نو بيا هم دا نهٔ چې د غفلتونو ښکار شي بلکې بيا په ناسته د الله ذِکر شروع کړي، په ناسته ناسته چې هم ستړے شي نو بيا په ملاسته او په ګرځيدو، په دُکان کښې په ناسته، د کار روزګار کولو په وخت هم په زړهٔ زړهٔ کښې د الله پاک ياد ديره ساتي-

سُبْحٰنَ الله! دا خو وې د بنده د الله پاک سره د محبت کولو نخښې- بيا هغه بنده د کوم سره چې الله پاک محبت فرمائي، د هغهٔ نخښې څهٔ دي؟

## د الله پاک د محبت نخښې

حضرت با يزيد بِسطامي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي:

فَاَمَّا مَنْ يُحِبُّهُ اللهُ اَعْطَاهُ سَخَاوَةً كَسَخَاوَةِ السَّحَابِ، وَشَفَقَةً كَشَفَقَةِ الشَّمْسِ، وَتَوَاضُعًا كَتَوَاضُعِ الْاَرْضِ

1...شعب الايمان، باب محبة الله، معاني المحبة، جلد:1، صفحه:369، رقم:414-

ترجمه: باقي پاتې شو هُغه بنده د کوم سره چې الله پاک محبت فرمائي نو الله پاک هغهٔ ته د وريځې پهٔ شان سخاوت ورعطا کوي، د نمر پهٔ شان شفقت عطا کوي او د زمکې پهٔ شان عاجزي عطا کوي- (1)

يعنې د کوم بنده سره چې الله پاک محبت فرمائي، د هغهٔ درې نخښې دي: (1): سخاوت داسې لکه څنګه چې پهٔ وريځه کښې دے، وريځ چې کله وريږي نو بس بيا وريږي، پهٔ هر طرف کرم کوي، ټوله زمکه اوبهٔ کوي، هم داسې سخاوت هُغه بنده ته هم عطا کولے شي (2): شفقت داسې لکه څنګه چې پهٔ نمر کښې دے چې نمر د زمکې نه د يو حَد پهٔ فاصله کښې وي د پاره د دې چې د زمکې والا اونه سوزي، رڼا تقسيموي، چې کله راخيژي نو مالداره غريب، بادشاه فقير ټولو ته رڼا کوي، څوک هم محرومه نهٔ ساتي، هم داسې چې الله پاک د کوم بنده سره محبت فرمائي، د هغهٔ د شفقتونو نه ټول فيضان حاصلوي (3): دريم څيز کوم چې بنده ته عطا کولے شي، هغه دهٔ: عاجزي، داسې عاجزي لکه څنګه چې پهٔ زمکه کښې دهٔ، زمکه د ښپو د لاندې غوړولے شوې دهٔ، مالداره، غريب، نيک، ګنهګاره ټول پهٔ دې باندې د پاسه ښپې ږدي او ګرځي پرې، زمکه چا ته هم نهٔ وائي چې تهٔ څوک يې پهٔ ما باندې ښپې کيښودونکے- زمکه د چا سره نيغيږي نهٔ- هم داسې چې د کوم بنده سره الله پاک محبت فرمائي، هغهٔ ته هم داسې عاجزي عطا کوي-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا ټولې 4 خبرې دي، څکال که پهٔ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې مونږ دا څلور واړه خبرې هم اِختيار کړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د رمضان مياشت به ډيره ښه بلکې بے مثاله تيره شي (1): پهٔ عبادت کښې ښه ډير مصروفيت، داسې چې پهٔ نمونځونو کولو ستړي شي نو ذِکر او اذکار شروع کړئ، پهٔ ذِکر او اذکار باندې چې کله ستړي شي نو بيا ذِکرقلبي شروع کړئ يعنې پهٔ زړهٔ کښې د الله پاک د نعمتونو، د هغه د قدرتونو، د هغه د

1 ...شعب الايمان، باب محبة الله، معاني المحبة، جلد:1، صفحه:369، رقم:414-

حکمتونو، د هغه د شانونو ذِکر شروع کړئ، يعني چې زمونږ يو ساعت هم بغير د عبادت نه نۀ تيريږي، بس هر ساعت عبادت، عبادت، صرف عبادت وي۔

## کلک عبادت کوئ !

اللّٰه پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهٖ (پاره:16، سورۂ مريم:65)

ترجمہ کنزُالعِرفان: نو هُم د هغه عبادت کوه- او د هغۀ په عبادت باندې کلک ودريږئ-

يعنې د عبادت پۀ لاره کښې که مشکلات راځي، خوارې وي خو تاسو پۀ دې باندې ثابت قدم اوسئ، کلک ودريږئ، پۀ مستقل مزاجۍ سره عبادت کوئ! [1]

دلته دا يوه لويه مسئله ده- مونږ د عبادت طرف ته خو مائله شو خو پۀ دې باندې اِستقامت نۀ اختيارو، پۀ عبادت کلک نۀ ودريږو- لکه څنګه چې اوس رَمَضَانُ المُبَارَک تشريف راوړي، د رَمَضَانُ المُبَارَک د راتلو سره د عبادت رغبت زياتيږي، مونږ د ډيرو نيکو ارادې جوړوو خو پۀ ورو ورو پۀ شوق کښې کمے راتلل شروع شي، د رَمَضَانُ المُبَارَک پۀ وړومبۍ عشره کښې جوماتونه ډک وي، پۀ تراويح کښې ښه ډير خلق پۀ نظر راځي، د تِلاوت طرف ته هم خلق مائله کيږي خو پۀ دويمه عشره کښې دا شوق کم شي، د نـمونځ کوونکو شميره هم کمه شي، پۀ تراويح کښې هم لږ خلق پاتې کيږي، دا چې کوم کمے دے، دا نۀ دے پکار، دا ښه خبره نۀ ده-

(2): دويم کار کوم چې د روژې پۀ مياشت کښې کول دي، هغه دے: **سخاوت**- داسې سخاوت لکه څنګه چې پۀ وريځ کښې دے ✿ غريبانانو له راشن ورکوئ ✿ پۀ يتيمانو باندې مهربانۍ کوئ ✿ که اللّٰه پاک همت او وَس درکړے وي نو رمضان پيکج جوړ

---

1...تفسير کبير، پاره:16، سورۂ مريم، زير آيت:65، جلد:7، صفحه:555 خلاصةً۔

کړېځ! غريبانو له يـې وركړېځ! ✿ كه تاسو دُكانداران يـې نو رمضان آفر ولګوئ! څۀ نا څۀ ډسكاؤنټ ولګوئ! (3): دريم كار: داسې شفقت لكه څنګه چې پۀ نمر كښې دے پۀ ټولو باندې مهربانه دے، ټولو ته رڼا كوي (4): داسې عاجزي لكه څنګه چې پۀ زمكه كښې ده، د ټولو سره بس د عاجزئ والا، د شفقت والا سلوک ساتل دي- پۀ حديثِ پاک كښې دي: مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ خوک چې د الله پاک د پاره عاجزي اِختيار كړي، الله پاک هغۀ ته اوچت والے عطا كوي- [1]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دې څلورو خبرو پۀ اِختيارولو څکال رَمَضَانُ الْمُبَارَک تير كړېځ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! مزه به هم دركړي او كه الله پاک وغوښتل نو د بخښنې ذريعه به هم جوړه شي- دغه شان د رمضان د راتلو پۀ خوشحالئ كښې خپل كورونه، محلې دوكانونه، فيكټرياني وغيره ښائسته كړېځ!چراغان وكړېځ!خو د دې كارونو دپاره چنده مۀ كوئ د ذاتي اخراجاتو نه د دې اهتمام اوكړېځ! الله پاک دې مونږ ته د عمل كولو توفيق راعطا كړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## د اِعتكاف ترغيب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د رَمَضَانُ الْمُبَارَک مياشت هم تشريف راوړونكې ده- رَمَضَانُ الْمُبَارَک ډيره د بركتونو والا مياشت، د رحمان مياشت، د قرآنِ پاک د نازليدو مياشت او د بخښنې مياشت ده-

| | |
|---|---|
| عَجِّل عَجِّل يَا رمضان | جان مِری تجھ پر قربان |
| آ بھی جا ماہِ سُبْحٰن | جلدی جلدی آ رمضان |
| جب بھی آتا ہے رمضان | جان میں آجاتی ہے جان |

---

1...معجم اوسط، جلد:6، صفحه:145، حديث:8307-

| | |
|---|---|
| خوب ہے رمضاں کی بھی شان | اِس میں اُترا ہے قرآن |
| مجھ کو مدینے میں رمضان | کاش! میسر ہو رحمٰن |
| آجا آ بھی جا رمضان | تجھ پہ فِدا عطّارؔ کی جان |

الله پاک دې زمونږ د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د مياشتې ليدل، په دې کښې د ښه ډېرو روژو د نيولو، د ښه ډېر عبادت کولو توفيق رانصيب کړي- د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د مياشتې يو ډېر اهم عبادت اِعتکاف هم دے- نفلي اِعتکاف خو هر وخت کيدے شي خو کوم اِعتکاف چې سُنَّتِ مؤکده دے، هغه صرف په **رَمَضَانُ الْمُبَارَک شريف** کښې کيږي- د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د ټول **رَمَضَانُ الْمُبَارَک** اِعتکاف کول هم ثابت دي او د اخرۍ عشرې اِعتکاف خو زمونږه د آقا و مولیٰ، تاجدارِ انبيا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډېر خوښ وو، نبي کريم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د اخرۍ عشرې د اِعتکاف ډېر اهتمام فرمائيلو- د دې پورې چې يو ځل يـې په څۀ وجه په **رَمَضَانُ الْمُبَارَک** کښې اِعتکاف اونکړے شو نو رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شوال کښې اِعتکاف وفرمائيلو- [1]

## د اِعتکاف فضيلتونه

❁ د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت عائشه صِدِّيقه، طيبه طاهره رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دے: **مَنْ اِعْتَکَفَ اِيْمَاناً وَّاِحْتِسَاباً غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ** يعنې چا چې د ايمان سره او د ثواب حاصلولو په نيت اِعتکاف اوکړو د هغۀ وروستني ګناهونه به اوبخښلے شي- [2] ❁ **په يو بل روايت کښې دي**: چا چې په **رَمَضَانُ الْمُبَارَک** کښې 10 ورځې اِعتکاف اوکړو هغه داسې دے لکه چې دوه حجونه او دوه عمرې يـې اوکړې- [3]

---

1... بخاري، كتاب الِاعتكاف، باب الاعتكاف في الشوال، صفحه:533، حديث:2041-

2... جَامِع صغير، صفحه:516، حديث:8480-

3... جَامِع صغير، صفحه:516، حديث:8479-

## د اِجتماعي سُنَّت اِعتكاف ترغيب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي لاندې پهٔ ټوله دُنيا کښې پهٔ زرګونو ځايونو کښې اجتماعي اعتكاف كولے شي، تاسو هم كوشش اوكړئ! د دې سره سره د ټولې مياشتې اِعتكاف هم كولے شي- دا ځل به پهٔ ټول پاكستان كښې پهٔ 29 ځايونو او پهٔ ټوله دُنيا كښې پهٔ 130 ځايونو كښې د ټولې مياشتې اِعتكاف كولے شي- تاسو هم د ټولې مياشتې د اعتكاف سعادت حاصل كړئ! بلكې پهٔ عالمي مَدَني مركز فيضانِ مدينه (كراچي) كښې اعتكاف اوكړئ! چې هلته به مو د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د وخت د يو كامِل وَلي سره د اعتكاف كولو سعادت نصيب شي نو د دې بركتونه به هُم جدا وي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اِسلامي د يوې شعبې تعارف: فيضان آن لائن اكيډمي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! حضرت عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ارشاد فرمائي : عالِم جوړ شه! طالِبِ عِلم جوړ شه! يا (كم از كم) د عالِمانو سره محبت كوونكے جوړ شه! څلورم مهٔ جوړيږه، ګنې هلاک به شې- (1)

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي ❀ د عِلمِ دِين نُور تقسيمونكے تنظيم ❀ د معاشرې اِصلاح كوونكے تنظيم ❀ د خلقو د عقيدو او د اعمالو اِصلاح كوونكے تنظيم ❀ د عشقِ رسول جامونه څښوونكے تنظيم دے- د دې ښكلي تنظيم دا مقصد دے چې هر مسلمان كم از كم فرض علوم زده كړي، خو افسوس چې دلته

---

1...دارمی، صفحه:96، حديث:254۔

داسې ذِهن ډېر کم دے، که د چا ذِهن وي هم نو هغۀ ته د خپل کار روزګار پۀ وختونو کښې وخت ويستل ګران وي ډېر خلق د عِلمِ دِين نه محرومه پاتې کيږي-

اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د مسلمانانو د دې مشکل اسانولو او هر ګس ته د هغۀ د وختونو مطابق د عِلمِ دِين د موقعې ورکولو د پاره يوه ډېره ښکلې شعبه فيضان آن لائن اکيډمي (*Faizan Online Academy*) جوړه کړې ده-

اَلْحَمْدُلِلّٰه! دا شعبه هر يو ګس ته د هغۀ د وختونو پۀ لحاظ سره ✿ د اِسلامي عقيدو کورس ✿ طهارت کورس ✿ مَدَني قاعده او ناظِره ✿ د قرآن حفظ ✿ نـمونځ کورس ✿ د حديث د حفظ کولو کورس ✿ د ژوند د تيرولو د ادابو کورس ✿ عالِم کورس او د دې نه علاوه نور ډېر اهم کورسونه (*Courses*) کوي-

اوسه پورې د 64 زره نه زياتو طالبِ عِلمانو د فيضان آن لائن اکيډمي نه مختلف کورسونه مکمل کړي دي او د 27 زره نه زيات طالبِ عِلمان تعليم حاصلوي- تاسو هم د دعوتِ اِسلامي د دې شعبې نه فائده حاصله کړئ، عِلمِ دِين حاصل کړئ! الله پاک دې مونږ ته د عِلمِ دِين د زده کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## جنّتي اعمال(Jannati Amaal) موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د نيک جوړيدو او نيک اعمالو کښې د اضافې دپاره د دعوتِ اسلامي *I.T* ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے دے: جنتي اعمال (jannati amal) ✿ دا ايپلي کيشن خصوصا پۀ رمضان کښې کيدلو والا اعمالو پۀ کارکردګۍ باندې مشتمل دے-

پۀ دې ايپلي کيشن کښې د اسلامي ورونړو او اسلامي خويندو دپاره يو شان 12 جنتي اعمال درج دي ۞ تاسو د دې ايپلي کيشن پۀ ذريعه روزانه د جنتي اعمالو جائزه اخستلے

شئ ۞ د ياداشت يو آپشن پکښې هم موجود دے د دې په ذريعه پۀ مقرره وخت د جائزې نوټيپيکيشن ميلاويږي ۞ تاسو يې د خپل ذمه دار سره هم شيئر کولے شئ ۞ د دې يوه خوبي دا هم ده چې ستاسو ماهانه جائزه ايپلي کيشن به د ډيليټ کيدو نه پس هم محفوظ وي ۞ دخپل سهولت مطابق فونټ سائز کم يا زياتولے هم شئ ۞ دا ايپلي کيشن پخپله هم انسټال کړئ او نورو سره يې هم شيئر کړئ-

دعائے عطار!ياالله څوک چې پۀ رمضان کريم کښې د دې جنتي اعمالو نه پۀ څۀ نه څۀ باندې عمل اوکړي د هغۀ په نيکو کښې زرۀ ولګوي ۞ د دنيا او اخرت د پريشانو نه يې بچ کړي ۞ او سره د مور او پلاره يې جنت الفردوس ته بے حسابه داخل کړي

صَلُّوْاعَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عطياتو ترغيب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ستاسو خپل دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي، دا وخت د اتياؤ [80] نه پۀ زياتو شعبو کښې د دِين پۀ خدمت کښې مصروف دے-

اَلْحَمْدُلِلّٰه!د وفاقي وزارتِ تعليم او پيشه ورتربيت نه منظور شوې دعوت اسلامي ديني تعليمي بورډ کنزُ الـمدارس بورډ (***Kanzul Madrasah Board***) پۀ نوم دے ❁ د 1500 نه زيات جامعات الـمدينه د هلکانو او جينکو (***Boys & Girls***) 900 مدارس المدينه (بوائز اينډ ګرلز) قائم دي، پۀ کومو کښې چې د حفظ او ناظرې، عالِم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تَخَصُّصَات (***Specialization***)، فرض علوم کورسز کولے شي ❁ د جامعات او مدارسُ الـمدينه (بوائز اينډ ګرلز) د طالبِ علمانو شميره پۀ مجموعي توګه 5لاکه 69زره ده ❁ د فيضان اسلامک اسکول، دار المدينه (اسکول ،کالج،يونيورسټي)شميره 299او د طالبعلمانو شميره 54زره نه زياته ده ❁ د الـمدينةُ العلميه

(اسلامک ریسرچ سنٹر) په ذريعه پۀ ليټريچرو باندي تحقيقي کار کيږي تر اوسه پوري 2108 کتابونو او رسالو باندي کار شوے دے

تاسو هم د دِين د خِدمت پۀ دې کار کښې خپله حصه شامله کړئ! خپل عطيات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده يعني ډونيشن پۀ څۀ قِسمه جائز، ديني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني، د خير ښيګړې، پۀ ښو او د امدن زياتولو پۀ جائز او محفوظو کارونو کښې لګيدے شي د پاره د دې چې زياتې شوې خرچې پرې پوره کړے شي۔

دعوتِ اسلامی کی قَیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم

اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یا اللّٰہ مری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❀ د هر خالي پۀ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ مَدَني چينل باندې لائيو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکې خالي پۀ ورځ به هم پۀ مَدَني چينل باندې د ماسخوتن د نمونځ نه پس (تقريباً 8:45 بجې) اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پۀ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❀ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان کوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د روژې مياشت د نيکو اعمالو مياشت رسالې اعلان کولے شي۔ دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (*Share*) کړي! ❀ چنده کول يو داسې کار دے چې پۀ ډيرو دِيني کارونو

کښې د دې ضرورت پيښيږي خو د دې احتياطونه هم ډير دي، د دې احتياطونو زده کول د چنده کوونکو د پاره ضروري دي- په دې باره کښې اميرِ اهلِسُنَّت محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه په اسانو الفاظو کښې يو کتاب **چندے کے بارے میں سوال جواب** ليکلے دے- دا کتاب هر هغه اِنسان له لوستل پکار دي کوم چې چنده کوي- تاسو هم دا کتاب د مکتبة المدينه د يوې خانګې نه په **70 روپی** په بيعه واخلئ، پخپله يې هم ولولئ او نورو له هم ترغيب ورکړئ! ❀ د **رَمَضَانُ الْمُبَارَک** په خوشحالۍ کښې د کورونو د ښائسته کولو د پاره مختلف قِسمه لړۍ په بيعه او پينا فليکس (***Pina Flax***) په آرډر باندې حاصل کړئ- په رمضان کښې د اميراهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د طرفه عطاکړے شوي جنتي اعمالو جائز اخستو دپاره د مکتبة المدينه نه جنتي اعمال کارډ په 10 روپے حاصل کړئ-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جَنَّت کښې زما سره وي- (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د زُلفو او د سر د ويښتو سُنَّت او آداب

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** د چا چې ويښتهٔ وي هغه دې د هغې اِکرام اوکړي- (2) يعني هغه دې وينځي، تيل دې ورکوي [يعني غوړوي دې] او ګمنځوي دې-

1...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-

2...ابو داؤد، کتاب الترجل، باب فی اصلاح الشعر، صفحه:653، حديث:4163-

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زُلفان مُبارک به کله د غوږونو مبارکو د نيمې پورې ❁ کله به د غوږونو مبارکو د آخرئ حصې پورې او ❁ بعضې وخت به چې غټ شول نو د اوګو مبارکو يعني د اوګو مبارکو سره به يې لګېدل ❁ مونږ له پکار دي چې موقع پهٔ موقع درې واړه سُنَّت ادا کړو، يعني کله د غوږونو د نيمې پورې، نو کله د دواړو غوږونو پورې او کله تر اوګو پورې ويښتهٔ وساتو ❁ بعضې خلق [پهٔ ويښتو کنبې] نيغه يا اُلټا لاره [يعني کرښه] اوباسي دا د سُنَّت خلاف کار دے ❁ سُنَّت دا دي چې که چرې پهٔ سر باندې ويښته وي نو پهٔ مينځ کنبې دې لاره [يعني کرښه] ويستلے شي ❁ د نارينه سره اختيار دے چې د سر ټول ويښتهٔ وخَرَئي يا يې غټ کړي او پهٔ مينځ کنبې يې لاره [يعني کرښه] اوباسي ❁ حضرت اَنَس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پهٔ سر مبارک اکثر تيل لګول [يعني ويښته به يې غوړَوَل] او ګيره مبارکه به يې اکثر ګمنځوله او اکثر به يې پهٔ سَر مُبارک باندې کپړه کېښودله [يعني سر مُبارک به يې پټولو] تر دې پورې چې کپړه به پهٔ تيلو لـمده شوه۔ (1)

تيل کی بُونديں ٹپکتی نہيں بالوں سے رضا | صبحِ عارِض پہ لُٹاتے ہيں ستارے گيسو

**وضاحت:** اے رضا! د سرکارِ عالي وقار، مکي مدني سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکو زلفو نه چې د تيلو کوم څاڅکي کيږي، ما ته خو دا ننداره داسې لګي لکه څنګه چې د ستورو ږکه شپه د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ مخ مبارک باندې، پهٔ رُخِ وَالضُّحٰی باندې ستورې نولي۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري

1...550 سنتيں اور آداب، صفحه: 41 تا 43 ملتقطاً۔

رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئي لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

| | |
|---|---|
| رَبّ کے در پر جھکیں التجائیں کریں | بابِ رحمت کُھلیں قافلے میں چلو |
| عاشقانِ رسول ان سے رحمت کے پھول | آؤ لینے چلیں قافلے میں چلو |

**الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمعې او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

---

1 ... القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2 ... افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا خوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.(1) راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: خوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.(2) راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيكئ ليكي.(3) راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

جَزَى اللهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

---

1 . . . القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

2 . . . الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

3 . . . مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فی كيفية الصلاة . . . الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

## ﴿2﴾ داسې دعا ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵